د جمعې ورځې د خطابت موضوع او
لیکلی تقریر او بیان چې د هیواد دمرکز او ولایاتو
ټولو خطیبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې لیږل کیږي.

۲۳/ جماد الاولی/۱۴۴۷ هـ، ق موافق ۲۳ / عقرب /۱۴۰۴هـ، ش

# د ټولنې د اصلاح لپاره د دیني مدرسو علمي او اخلاقي خدمتونه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الحمد لله الذي هدانا للإسلام وما كنا لنهتدي لولا أن هدانا الله،رضينا باللّه ربّاً، وبالإِسلام ديناً، وبمحمد نبيّاً، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، وأشهد أن محمداً عبده ورسوله، أرسله بالهدى ودين الحق ليظهره على الدين كله ولو كره المشركون ، وصَلَّى الله على نبينا وبارك عليه وعلى آله وصحبه إلى يوم الدين، أما بعد:

قال الله سبحانه وتعالى:(وَمَا كَانَ الْمُؤْمِنُونَ لِيَنفِرُواْ كَآفَّةً فَلَوْلاَ نَفَرَ مِن كُلِّ فِرْقَةٍ مِّنْهُمْ طَآئِفَةٌ لِّيَتَفَقَّهُواْ فِي الدِّينِ وَلِيُنذِرُواْ قَوْمَهُمْ إِذَا رَجَعُواْ إِلَيْهِمْ لَعَلَّهُمْ يَحْذَرُونَ)التوبة:(۱۲۲)

**درنو حاضرینو!**

**السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.**

دا سلام د سپیڅلي دین په نورو ادیانو یوه برتري په دې کې ده ، چې دا سلام دین د عقلانیت دین دی او د ژوند په هره برخه کې الهي احکام او لارښوونې لري، چې ددغو احکامو او لارښوونو د زده کړې لپاره نبي علیه السلام او صحابه کرامو خاص نظام رامنځ ته کړی دی، چې مدرسه ددغه نظام سمبول دی.

دیني مدرسې د اسلام هغه سترې لوړې لوړې منارې دي، چې ټولنې ته په هر وخت او زمان کې لاره روښانه کوي.

دیني مدرسې د هدایت او اصلاح هغه دنګې دنګې قلاګانې دي ، چې د فرد او ټولنې په اصلاح کې رغنده رول لوبوي.

دیني مدرســـې د علم او پوهې د زده کړې هغه زانګو ګانې دي، چې په دغو زانګو ګانو کې د دین لوی لوی امامان او عالمان را لوی شوي دي. دیني مدر سې هغه سپیڅلې ځایونه دي، په کومو ځایونو کې ، چې د الله تعالی کتاب (قرآن) او نبوي احادیث لوستل کیږي.

دیني مدرسې د اسلام هغه سترې قلاګانې دي ، له کومو قلاګانو څخه، چې د اسلام میړني غازیان او فاتحین فارغ شوي دي.

دیني مدرســـې هغه مقدس ځایونه دي ، په کومو ځایونو کې، چې تل د اســـلامي امت د اصـــلاح او فلاح لپاره دحق د لارې دعوتګر تربیه کیږي.

ديني مدرسې هغه ځایونه دي، په کومو ځایونو کې چې تل د اسلامي ټولنې د خیرخواهۍ او اصلاح په موخه په کې کتابونه لوستل کیږي او د اسلامي ټولنې د بهبود ، ددنیا او آخرت د کامیابۍ درسونه په کې لوستل کیږي ، ترڅو اسلامي ټولنه د کامیابۍ حقیقي پړاو ته ورسیږي او د نورو قومونو په مقابل کې با عزته ټولنه وګرځي.

په دیني مدرسه کې شیوخ او طالب علم دواړه په دې سوچ او غم او لټه کې وي، چې څرنګه به اسلامي ټولنه اصلاح شي او اسلامي ټولنه به څرنګه ددنیا او آخرت له هلاکت څخه وژغورل شي؟

په اصل کې دیني مدرسې د مسجد د فعالیتونو د فعال ساتلو مرکزونه دي، په کوم ځای کې چې انسان علم زده کوي، سالم تربیت حاصلوي، زهد او تقوی زده کوي، د ټولنې د اصلاح لپاره عملي هنرونه زده کوي.

ددیني مدرسو اساس رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپله په مسجد نبوي کې ایښی دی او د رسول الله صلی الله علیه وسلم او د خلفای راشدینو په زمانه کې مسجد د مسلمانانو دیني مدرسه وه او رسول الله صلی الله علیه وسلم به مسلمانانو د الله تعالی رالیږلي احکام بیانول او د مسلمانانو عقیدوي، عملي او روحي تربیت به یې په مسجد کې کولو او نبي علیه السلام به په مسجد کې د وعظ ، نصیحت ، د دیني احکامو بیانول، د جهاد لپاره د غازیانو تربیت او د غزا لپاره غازیان په مسجد نبوي کې تجهیزول؛ حتی چې په ځینو وختونو کې به مجاهدینو د جهاد لپاره عملي تمرین په مسجد کې ترسره کولو.

رسول الله صلی الله علیه وسلم به د خلکو ترمنځ د صلحې او اصلاح فیصلې په مسجد کې کولې او د سفیرانو او میلمنو سره به یې هم ملاقاتونه په مسجد کې کول.

په مسجد نبوي کې لکه د نن ورځ مدرسو په څیر اصحاب صُفه دیره ؤ او د نبي علیه السلام څخه به یې ددین زده کړه کوله.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم په وخت کې به ټول یا اکثره صحابه کرام د جهاد لپاره وتل او نبي علیه السلام به په مدینه منوره کې پاتې کیدلو، الله تعالی د مسجد نبوي مدرسې د تأیید لپاره وفرمایل: تاسو ټول جهاد ته مه وځئ ، بلکې ځینې کسان باید په مدینه منوره کې باید پاتې شي، ترڅو په نبوي مدرسه کې هغه احکام او مسائل زده کړي ، جدیداً نازلیږي او بیا یې هغو خلکو ته ورو ښایې چې جهاد لپاره له مدینې منورې وتلي دي. الله تعالی وفرمایل:(وَمَا كَانَ الْمُؤْمِنُونَ لِيَنفِرُواْ كَآفَّةً فَلَوْلاَ نَفَرَ مِن كُلِّ فِرْقَةٍ مِّنْهُمْ طَآئِفَةٌ لِّيَتَفَقَّهُواْ فِي الدِّينِ وَلِيُنذِرُواْ قَوْمَهُمْ إِذَا رَجَعُواْ إِلَيْهِمْ لَعَلَّهُمْ يَحْذَرُونَ). التوبة:(۱۲۲)

ژباړه:- او نه دي مؤمنان داسې چې ووځي ټول له ځرمې (سېلمي) (غزا یا د علم طلب ته) نو ولې نه ځي له هرې ډلې له دې مؤمنانو ته یو ټولی لپاره د دې چې پوهه پیدا کړي دغه تلونکی په دین کې او لپاره د دې چې خبر ورسوي قوم خپل ته کله چې بېرته راشي دوی په لوري د هغوی لپاره د دې چې هغوی وویریږي.

خلاصه دا چې د نبي علیه السلام په وخت کې مسجد نبوي د مسلمانانو مدرسه وه او په دغه مدرسه کې به د تعلیم او تعلُّم سلسله جاري وه.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د رحلت څخه وروسته د حضرت ابوبکر صدیق او حضرت عمر فاروق او حضرت عثمان بن عفان رضي الله عنهم په وختونو کې هم مسجد نبوي د مسلمانانو لپاره د علم او د ټولنې د اصلاح زانګو او د علم د زدکړې مدرسه وه. د نبي علیه السلام په وخت کې به په مسجد نبوي کې رسول الله صلی الله علیه وسلم د دیني احکامو د زده کړې او د اصلاح لپاره حلقات دائرول او دصحابه کرامو په زمانه کې به صحابه کرامو په مسجدونو کې علمي ، د زهد او تقوی مجلسونه دائرول چې ددغو حلقاتو د فضیلت په اړه په یو روایت کې راځي ،چې نبي علیه السلام په هغه حلقه کې کیناستل غوره کړل په کومه حلقه کې ، چې د علم زده کړه او نورو ته د علم ښوول کیدل: عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ: خَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ يَوْمٍ مِنْ بَعْضِ حُجَرِهِ، فَدَخَلَ الْمَسْجِدَ، فَإِذَا هُوَ بِحَلْقَتَيْنِ، إِحْدَاهُمَا يَقْرَءُونَ الْقُرْآنَ، وَيَدْعُونَ اللَّهَ،

وَالْأُخْرَى يَتَعَلَّمُونَ وَيُعَلِّمُونَ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «كُلٌّ عَلَى خَيْرٍ، هَؤُلَاءِ يَقْرَءُونَ الْقُرْآنَ، وَيَدْعُونَ اللَّهَ، فَإِنْ شَاءَ أَعْطَاهُمْ، وَإِنْ شَاءَ مَنَعَهُمْ، وَهَؤُلَاءِ يَتَعَلَّمُونَ وَيُعَلِّمُونَ، وَإِنَّمَا بُعِثْتُ مُعَلِّمًا»، فَجَلَسَ مَعَهُمْ ). سنن ابن ماجه (١/ ٨٣)

ژباړه:- د عبدالله بن عمرو بن العاص رضي دالله عنه څخه روايت دی ، هغه وايي چې راووتلو نبي عليه السلام يوه ورځ د يوې حجرې (کور) څخه ، نو سترګې يې ولګيدې په دوه حلقو باندې ، چې په يوه حلقه کې (خلکو) قرآن کريم لوستلو او دالله تعالی څخه دعاګانې غوښتلې او په بله حلقه کې (خلکو) علم زدکولو او نورو خلکو ته يې علم ور زده کولو ، نو نبي عليه السلام وفرمايل: ددواړو حلقو خلک په نيک کار کې مشغوله دي. دا خلک قرآن کريم لولي او دالله تعالی څخه ډېل حاجتونه غواړي، که د الله تعالی خوښه شوه هغه غوښتل شوي شيان به ورته ورکړي او که يې خوښه شوه ور څخه به يې منع کړي او دا نور خلک چې دي دوی علم زده کوي او نورو ته علم ور ښايي او زه ليږل شوی يم د معلم په حيث او بيا د علم په حلقه کې کيناستلو.

د امويانو په دوران کې چې اسلام نورو ښارونو ته وغزيدلو او په اسلامي ښارونو کې مسجدونه جوړ شول، نو د اصاغرو صحابه کرامو او اکابرو تابعينو په زمانه کې هم د ر سول الله صلی الله عليه و سلم د زمانې په شان مسجد د مدر سې مقام درلودلو او علمي حلقات به په کې دائريدل، چې د مسجد نبوي او مسجد الحرام څخه علاوه په نورو مسجدونه کې هم لوی لوی مدرسې او علمي حلقې دائريدلې ، چې مشهورې يې په بغداد کې جامع بغداد ؤ او په شام کې جامع دمشق مدر سه وه او په مصر کې عمرو بن العاص مسجد ؤ .

په هره يوه حلقه کې به په سوونو شاګردانو د علم تفسير، احاديثو او مغازی، علم لغت او نور علوم زده کړه کوله.

همداراز د امويانو او عبا سيانو په دوران کې ځلور مشهورې فقهي مدر سې رامنځ ته شوې، په کوفه کې دامام اعظم ابوحنيفه رحمه الله فقهي مدرسه، په مدينه منوره کې د امام مالک رحمه الله فقهي مدرسه او په شام کې د امام اوزاعي د مغازيو مدرسه، او وروسته بيا دامام شافعي او امام احمد بن حنبل رحمه الله مدرسه.چې دا ټولې مدرسې په مسجدونو کې موجود وې.

له دې څخه وروسته د عباسيانو د خلافت په دوران کې د مسجد څخه بيرون جدا مدرسې رامنځ ته شوې لکه په نيشاپور کې د بيهقيه مدر سه، په هلمند کې د بست په ښار کې دامام ابن حبان بستي مدر سه، په بغداد کې د دارالعلم په نامه د ابو نصر سابور بن ارد شير مدر سه، په دوهم هجري قرن کې په بخارا کې مستقله مدر سه جوړه شوې وه . نصر بن سبکتکين د محمود غزنوي ورور د السعيديه په نامه مستقله مدرسه جوړه کړې وه، په دريم هجري قرن کې په بصره کې مستقله مدرسه جوړه شوه.

خو په رسمي شکل سره مدرسه له مسجد څخه د لومړي ځل لپاره په اسلام کې نظام الملک الطوسي السلجوقي، چې د سلجوقي امپراطورۍ کې وزير ؤ په (٤٥٧ هـ، ق) کې په بغداد کې جوړه کړه چې په (النظاميه) باندې يې شهرت درلود.

او د مدر سينو لپاره يې د دولت له خزانې څخه ر سمي معاش مقرر کړ او دطالب علمانو لپاره يې د او سيدو ځای او خوراک مقرر کړ. الموسوعة العربية العالمية (/ ٣٤)

کله چې مدر سه په مسجد کې وه ،نو شيخ او استاذ کوم معاش نه درلود، خو چې کله مدر سه د مسجد څخه جدا شوه ، نو د مدرس او شيخ لپاره معاش مقرر کړل شو. کله چې مدر سه په مسجد کې وه ، نو د شاګردانو لپاره د او سيدو معلوم ځای نه ؤ.

کله چې مدرسه په مسجد کې وه ، نو د شاګردانو او طالب علمانو لپاره د خوراک بندوبس نه ؤ.

کله چې مدرسه په مسجد کې وه، نو د تدريس فنون او علوم محدود ؤ ، لکه تفسير، حديث او علم حديث، سيرت او مغازي ، علم لغت عربي

د تدريس د اسلوبو تغيير او په مسجدونو کې د درسي حلقاتو کثرت چې په مسجدونو کې د آوازونو د پورته کيدو په وجه مدرسې له مسجد څخه جدا شوې ، همداراز په مدرسو کې او علمي حلقو کې د نورو علومو زيادت لکه علم الکلام، علم الفلسفه او د نورو علومو زيادت دا ايجابوله چې بايد مدرسه له مسجد له صحن څخه بيرون شي، ترڅو د مسجدونو بې حرمتي ونشي.

ولو که لوی دیني مدرسې د مسجد له تنې څخه جدا شوې ؛ ولې په رسالت او علمي خدمت کې یې هیڅ کمی رانغی ، بلکې د تعلیم او تعلُّم ساحه پراخه شوه.

## د ټولنې د اصلاح لپاره د دیني مدرسو علمي او اخلاقي خدمتونه:

مدرسې د ټولنې د اصلاح لپاره د علمي او اخلاقي اړخه زیات خدمتونه وړاندې کړي دي، چې ځینې یې په لاندې ډول دي:

**۱- مدر سو کې دالله تعالی دین او الهي احکام زده کیږي.** په مدرسـو کې مسـلمانان د الله تعالی رالیږلي احکامات ، هدایات او ګټورې لار ښوونې لولي او زده کوي یې ، چې د ټولنې د ا صلاح په برخه کې لوی خدمت ګڼل کیږي. کله چې څوک دالله تعالی د اوامرو او نواهیو څخه خبر شي ، نو بیا هغه کارونه کوي چې ځان ته او ټولنې ته په کې دُنیوي او اخروي ګټه وي او له هغوی کارونو څخه ځان ساتي چې ځان ته او ټولنې ته ور څخه زیان او تاوان پیښیږي.

کله چې انسـان ښـه کارونه او بدې کړنې وپیژني بیا ورڅخه ځان په کلکه سـاتي او په مدرسـو کې دالله تعالی اوامر او نواهي بیانیږي چې د ټولنې د نیکبختی او سعادت باعث ګرځي.

ټولنه د الله تعالی په کتاب او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په سُنتو اصلاح کیږي . لکه چې امام مالک رحمه الله فرمایلي دي:(لا یصلح آخر هذه الأمة إلا بما صلح به أولها) شرح العقیدة الطحاویة / الحوالي (ص: ۹)

ژباړه:- اصلاح به نشي آخر ددې امت مګر په هغه څه به اصلاح شي چې مخکني ور باندې اصلاح شوي ؤ.

**۲- دیني مدرسې د علم او پوهې د زده کړې مرکزونه دي.** په دیني مدرسو کې خلک علم او پوهه زده کوي، چې د علم او پوهې زده کول د ټولنې د اصلاح سبب ګرځي. په کومه ټولنه کې چې نافع علم زیات وي په هماغه اندازه له بدبختیو او جهالت څخه لرې وي.

د علم زده کړه په هر مسـلمان نارینه او زنانه باندې فرض دي. دومره علم زده کول په هرچا فرض دي چې حلال او حرام ور باندې وپیژني، د دومره علم زده کړه په هر بالغ او عاقل باندې فرض ده چې په ورځنیو چارو کې د حرامو کارونو مرتکب نشيـ. په دیني مدرسو فقهي مسائل لوستل کیږي چې د حلالو، فرضو، سُنتو، مستحباتو ، مندوباتو، او حرامو ، مکروهاتو ، څخه بحث کوي.

دیني مدرسـې ټولنې ته تربیه شـوي علماء ، فقهاء ،د قرآن کریم حافظان او زاهدان وړاندې کوي ، چې بیا همدا علماء دالله تعالی احکام د ممبر له سره څخه او په درسي حلقاتو کې عوامو ته بیانوي او ټولنه داصـلاح لارې ته سـوقوي، چې دا ددیني مدرسو د خلکو داصلاح لپاره لوی خدمت دی چې وړاندې کوي یې.

د علم د زده کړې په اړه په بې شمیره آیتونه او احادیث راغلي دي. الله جل جلاله فرمایلي دي:( فَا سْأَلُواْ أَهْلَ الذِّكْرِ إِن كُنتُمْ لاَ تَعْلَمُونَ).النحل: (٤٣)

ژباړه:- نو پوښتنه وکړئ تاسې له اهل الذکر(خاوندانو د یاد یعنې له علماوو او پوهانو یا له اهل الکتاب نه) که یئ تاسې چې نه پوهیږئ.

په یو بل مبارک آیت کې الله تعالی د علم د خاوندانو صـفت بیان کړی دی او فرمایلي دي چې الله تعالی د علم څښـتنانو ته لوړوالی او عزت ورکوي.( يَرْفَعِ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنْكُمْ وَالَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ دَرَجَاتٍ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ).المجادلة: (١١)

ترجمه:- پورته کوي الله هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی له تاسې څخه او خاص پورته کوي هغه کسان چې ورکړی شوی دی دوی ته علم پوهه په درجو مرتبو کې. او الله په هغو کارونو چې کوئ تاسو ښه خبردار دی نو جزاء به پرې درکړي.

په یو حدیث شریف کې راځي:« وَمَا اجْتَمَعَ قَوْمٌ فِي بَيْتٍ مِنْ بُيُوتِ اللهِ، يَتْلُونَ كِتَابَ اللهِ، وَيَتَدَارَسُونَهُ بَيْنَهُمْ، إِلَّا نَزَلَتْ عَلَيْهِمِ السَّكِينَةُ، وَغَشِيَتْهُمُ الرَّحْمَةُ وَحَفَّتْهُمُ الْمَلَائِكَةُ، وَذَكَرَهُمُ اللهُ فِيمَنْ عِنْدَهُ».صحیح مسلم (٤/ ٢٠٧٤)

ژباړه:- او نه جمع کیږي یو قوم د الله تعالی له کورونو(مســجدونو) په یو کور کې، چې لولي د الله تعالی کتاب(قرآن کریم) او په خپلو منځو کې یې یو بل ته تدریسوي؛ مگر دا چې نازلیږي ور باندې سکون ، اطمینان او وقار او پټوي دوی لره رحمت او راچاپیریږي له دوی څخه ملائکې درحمت او الله تعالی ددوی یادونه کوي هغه چا ته چې د الله تعالی په حضــور کې دي لکه مقربې ملائکې.

د احادیثو شارحین وایې چې د (وَيَتَدَارَسُونَهُ بَيْنَهُمْ) څخه مراد د هغو ټولو علومو لوستل دي چې په قرآن کریم کې موجود دي.

او امام نووي رحمه الله ددې حدیث په شرح کې وایې:(وَيُلْحَقُ بِالْمَسْجِدِ فِي تَحْصِيلِ هذه الفضيلة الاجتماع فى مدرسة وَرِبَاطٍ وَنَحْوِهِمَا) شرح النووي على مسلم (١٧/ ٢٢)

ژباړه:- او په مســجد کې د راټولیدلو فضــیلت ټولو هغو ځایونو ته شــاملیږي (چې خلک په کې د الله د کتاب د زدکړې لپاره راټولیږي) لکه مدرسه او رباط( هغه ځای چې فقیران په کې اوسیږي) او داسې نور.

د علم زده کړه په هر مسلمان فرض ده .په حدیث شریف کې راځي:( طَلَبُ الْعِلْمِ فَرِيضَةٌ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ). سنن ابن ماجه (١/ ٨١)

ژباړه:- طلب د علم فرض دي په هر مسلمان باندې.

امام فضُــیل بن عیاض رحمه الله ددې حدیث په شرح کې وایې: (کل عمل كان عليک فرضــاً فطلب علمه عليك فرض ، ، وما لم يكن العمل به عليك فرضاً فليس طلب علمه عليك بواجب).معالم السنن، لأبي سليمان الخطابي (٣/ ٣٨)

ژباړه:- د هر کار کول، چې پر تا فرض وي، نو د هغه کار د علم طلب هم در باندې فرض دي او دکوم کار عمل چې درباندې فرض نه وي ، نو د هغه د علم طلب در باندې هم لازم نه دی.

شــیخ الاســلام ســهروردي رحمه الله وایې : علماء کرام د هغه علم په اړه چې طلب یې فرض دی مختلف نظرونه لري. څوک وایې هغه علم طلب یې فرض دی ددې څخه مراد د اخلاص علم دی او دنفس د آفاتو د پیژندلو علم مراد دی ، څوک وایې ددې علم څخه د حلالو او حرامو پیژندلو علم مراد دی ، څوک وایې چې ددې څخه د بیع او شراء ، نکاح او طلاق علم مراددی، څوک وایې چې ددې څخه د پنځه وخته لمونځونو علم مراددی . شرح المشكاة للطيبي (٢/ ٦٧٨)

په هر صورت دیني مدرسې ټولنې ته علماء وړاندې کوي چې د ټولنې د اصلاح لپاره لوی خدمت ګڼل کیږي.

**٣- دیني مدرسې په ټولنه کې داسلام مقدس دین خپروي، چې د ټولنې داصلاح لپاره د ژوند او دمرگ حیثیت لري.**

دیني مدرسې ددین د خپرولو مراکز دي او په نړۍ کې ددین د خپرولو لپاره بې بدیله ذریعه ده.

په کومه ټولنه کې چې دین او دینداري نه وي، په حقیقت کې هغه ټولنه مړه ده او په کومه ټولنه کې چې دین موجود وي هغه ټولنه ژوندی ټولنه ده.

د الله تعالی د رالیږلي دین په خلکو کې خپرول او داســلامي دین نشرــ او اشــاعت د مســلمانانو مکلفیت دی چې دا مکلفیت د دیني مدرســو له لارې په ښــه توگه ترسره کیږي،ځکه چې په مدرسـو کې د فنونو د زده کړې څخه برسـیره د الله تعالی کتاب قرآن کریم تفسیر بیانیږي او په دیني مدرسو کې نبوي احادیث او د احادیثو علوم بیانیږي چې دشریعت لومړني مصادر دي.

همدا راز په ديني مدرسو کې فقهې کتابونه لوستل کيږي چې د حلالو او حرامو څخه انسان خبروي او دکومې ټولنې افراد چې حلال او حرام وپيژني دا صالحه ټولنه ده.

الله تعالی خپل خوږ پيغمبر حضرت محمد صلى الله عليه و سلم ته فرمايلي دي:(وَأَنزَلْنَا إِلَيْكَ الذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيْهِمْ وَلَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ).النحل:(٤٤)

ترجمه:- او نازل کړی دی مونږ تاته ذکر قرآن يو لپاره د دې چې بيان کړې ته خلقو ته هغه چې نازل شوی دی په دې قرآن کې دوی ته او بل لپاره د دې چې ښاييږي دوی فکر او غور وکړي په کې چې دغه کلام الله دی.

**وجه د استدلال:** په دې خبره د امت د علماوو اتفاق دی، چې په قرآن کريم چې نبي عليه السلام ته کوم خطابات او مکلفيتونه ورکړل شوي دي، د نبي عليه السلام له رحلت څخه وروسته هغه خطابات د نبي عليه السلام امت ته متوجه دي.

د ر سول الله صلى الله عليه و سلم د احاديثو نورو خلکو ته ر سول، علاوه ددينه چې دا يو م.سئوليت دی ،لوی اجر لري او نبي عليه السلام داسې شخص ته دعاء کړی ده او فرمايلي يې دي: « نَضَّرَ اللَّهُ امْرَأً سَمِعَ مَقَالَتِي فَوَعَاهَا وَحَفِظَهَا وَبَلَّغَهَا) .سنن الترمذي (٥/ ٣٤)

ژباړه:- طر او تازه دې لري الله تعالی (مخ) د هغه شــخص چې زمونږ څخه خبره (حديث ) واوري ، نو هغه وســاتي او حفظ يې کړي او بيا يې نورو ته ورسوي .

همدا راز د الله تعالی دين ته دعوت ددې امت له وظائفو څخه ده او دين ته د نورو دعوت کول د يو لکه چې الله تعالی فرمايلي دي:(وَلْتَكُنْ مِنكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ).آل عمران: (١٠٤)

ترجمه:- او وي دې تل له تاســې څخه يوه ډله چې بولي خلق په طرف دخير اســلام او امر حکم کوي خلقو ته په معروف نېکۍ سره او منعه کوي خلق له منکر بدۍ نه او دغه آمرين بالمعروف ناهين عن المنکر هم دوی دي په مراد رسيدلي او کامياب.

په ديني مدرســه کې د امر بالمعروف او نهی عن المنکر کار دوام لري او د امر بالمعروف او نهی عن المنکر د کار لپاره په کې خلک روزل کيږي .

**۴- په ديني مدرســو کې خلک په غوره او عالي اخلاقو روزل کيږي**.په ديني مدرســو کې اخلاقي اســلامي ارزښــتونه پياوړي او غښــتلي کيږي، لکه عفوه او بښــنه ، تسامح، د غوســې کنترول، د انتقام له اخيســتلو ډډه کول، د محتاجو سره مرســته کول، دجاهلانو مخ اړول، ر ښتيا ويل، امانتداري او دخيانت څخه ځان ساتل ...،چې دا کار د ټولنې په اصلاح کې رغنده رول لوبوي او د اســلامي شريعت له مبادئو څخه ده. په مدرســه کې طالب علمان او شــاگردان په عالي اخلاقو روزل کيږي او دغه طالب علمان او شاگردان بيا په ټولنه کې عالي اخلاق تمثيلوي، چې په ټولنه کې خلک غوره اخلاق خپلوي او د عالي اخلاقو پيروي کوي.

نبي عليه السلام فرمايلي دي:« إِنَّمَا بُعِثْتُ لأُتَمِّمَ مَكَارِمَ الأَخْلاَقِ ». المستدرك (٢/ ٦٧٠)، السنن الكبرى للبيهقي (١٠/ ١٩١)

ژباړه:- بيشکه ليږل شوی يم ، (ددې لپاره) چې تمام کړم غوره اخلاق.

په يو مرسـل حديث کې راځي ، نبي عليه الســلام فرمايلي دي:« إِنَّ اللَّهَ تَعَالَى كَرِيمٌ يُحِبُّ مَعَالِيَ الأَخْلاَقِ وَيَكْرَهُ سَـفْسَـافَهَا » المستدرك (١/ ١١١)،السنن الكبرى للبيهقي. (١٠/ ١٩١)

ژباړه:- بيشکه الله تعالی خوښ گڼي عالي اخلاق او بد گڼي هغه سپک او حقير له خويونو څخه.

**۵-په ديني مدر سو کې خلکوته شرعي سيا ست ور ښوول کيږي، چې ټولنه له ت شنج څخه ساتي او په ټولنه کې ا صلاح رامنځ ته کوي.** = دينې مدرسه کې د رسول الله صلى الله عليه وسلم مغازي، سيرت او د صحابه کرامو تاريخ لوستل کيږي ؛ ترڅو د

طالب علمانو سياسي افکار وده وکړي او د ر سول الله صلی الله علیه و سلم له سیا ستونو ، تدبیرونو خبر شي او په ټولنه کې چې کوم په درواغو ولاړ سیاستونه دي د هغې ځخه ځانونه وساتي چې دا د ټولنې اصلاح لپاره خورا لوی خدمت دی.
په حدیث شریف کې راځي، نبي علیه السلام فرمایلي دي:( كَانَتْ بَنُو إِسْرَائِيلَ تَسُوسُهُمْ الْأَنْبِيَاءُ كُلَّمَا هَلَكَ نَبِيٌّ خَلَفَهُ نَبِيٌّ وَإِنَّهُ لَا نَبِيَّ بَعْدِي وَسَيَكُونُ خُلَفَاءُ فَيَكْثُرُونَ قَالُوا فَمَا تَأْمُرُنَا قَالَ فُوا بِبَيْعَةِ الْأَوَّلِ فَالْأَوَّلِ أَعْطُوهُمْ حَقَّهُمْ فَإِنَّ اللَّهَ سَائِلُهُمْ عَمَّا اسْتَرْعَاهُمْ). صحيح البخاري ت (٨/ ٥٦١)
ژباړه:- وو بني اسرائیل چې د هغوی حفاظت او د هغوی د کارونو تدبیر به انبیاء علیهم السلام کولو، کله به چې کوم نبي وفات شو، نو ورو سته به ورپسې بل نبي راغی او بیشکه زما ځخه ورو سته بل نبي نه راځي، ژر دی چې زما ځخه ورو سته به خلیفه ګان راځي (چې د امت د کارونو تدبیر او سیاست به کوي) ، صحابه کرامو عرض وکړ چې تاسو مونږ ته څه امر کوی ؟ نبي علیه السلام ورته وفرمایل: وفاء وکړئ د لومړني کس بیا د بل لومړني کس او دوی به ډیر زیات شي او ورکړئ دوی ته ددوی حق ( سمع او اطاعت او ددوی پیروي کول)، بېشکه الله ددوی ځخه پو ښتنه کوونکی دی په باره د هغه چا کې چې الله تعالی ددوی رعیت ګرځولی دی.
**٦- دیني مدرسو په ساینس او تجربوي علومو کې دټولنې نه هیریدونکي خدمتونه کړي دي.**
په عباسي دوران کې ټول ساینسي او تکنالوجۍ علوم د نورو ژبو عربي ژبې ته ترجمه کړل شول او په دغو علومو کې مدر سو نومیالي علماء او پوهان وروزل او جامعې ته یې د ابوبکر رازي، ابن الهیثم ، ابو ریحان البیروني، ابن سـیناء، خورازمي، جابر بن حیان، فارابي، ابن النفیس، الزهراوي، البتاني... په څیر علماء وړاندې کړل او د ټولنې د هوسـاینې لپاره د پام وړ خدمتونه وکړل، لکه د طب او عملیاتو د علم په برخه کې ، د فیزیک ، کیمیاء او الجبر علومو په برخه کې ، د ځمکې پیژندنې، آب او هواء او جغرافیه دعلومو په برخه کې، د سـیارو، سـتور او فلکیاتو د علم په برخه کې چې موجوده سـاینس او تکنالوجۍ لپاره اساسات ګڼل کیږي او اوسني ساینسپوهان د هغو مسلمانانو ساینسپوهانو شاګردان او پوره وړي دي.
**٧- د ناوړه رسمونو، عنعناتو او مزخرفو افکارو سره مبارزه.**
انسـان مدني الطبع مخلوق دی ، چې له چا سره اوسـیږي او یا یې ورسره ناسـته ولاړه وي، د هغه افکار، عقاید، رسـمونه او عنعنات دده په ژوند کې ځای نیسي ، ددې وجی نه په اسلامي ټولنه کې د مسلمانانو کې ناوړه عقاید، د اسلام مخالف رسمونه او عنعنات او باطل افکار لیدل کیږي، چې ددغو ټولو مسـتوردو افکارو ، عقایدو، رسـمونو او عنعناتو مخنیوی مدرسـې کوی او مسلمانانو ته د ا سلامي ریښتیني هدایات او لار ښوونې بیانوي او دشریعت مخالف افکارو، مذاهبو، ر سمونو او رواجونو سره مبارزه کوي.

**اقولي قولي هذا، استغفر الله لي ولکم ولسائر المسلمین**

**والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.**